مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

مصطفی پسرلی

۲۰۲۳/۰۶/۰۸

# غـــزل

د ټوپک په شپیلۍ سوله له ورور غواړو!!!
ځان ته غوړ او د ملت خوراک سپور غواړو!!!

د منطق خبرې نه شو هضمولی!
د پردې په خوله په هر لورې شور غواړو!!!

د نیکونو د ویاړونو نه منکر یو!
د تاریخ په هره پاڼه پیغور غواړو!!!

ډېر راغلي، بېرته تللي، مختورن دي
موږ دا خپل وطن د متو په زور غواړو!

لوی ارمان د لوی بابا چې را ژوندی شي
لر او بر مو یو وطن او یو کور غواړو!

پسرلیه! هر ار مان به دې پوره شي
ستا په ځیر ملي فکرونه څه نور غواړو!

مصطفی پسرلی
06/May/2023



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ